کابل- افغانستان　　　　نورمحمد غفوری

د ۱۳۸۹ کال د مرغومی د میاشتې ۲۰ مه او د ۲۰۱۱ ز کال د جنوری د میاشتې ۱۰ مه نېټه

# سیاسی حاکمیت او د ملت تر مخ پرتې ستونځې

په اوسنیو تاریخی شیبو کې افغان غیرتی ملت او په تیره بیا زموږ د ګران هیواد افغانستان وطنپال، ملی او ولسواک ځواکونه په سختو او برخلیک ټاکونکو شرایطو کې دی. په ټول هیواد کې بی امنی ورځ تر بلې زور اخلی. په داسې حال کې چې یوه کوچنی ډله د ملت د عامه، د وګړو د شخصی شتمنیو او د نړیوالو مرستو په برملا او رسوا لوټ لګیا ده او د هیواد د اقتصاد انحصار یې په لاس کې نیولی، د ولس ژوند هره ورځ تر تیرې ورځې زیات له سختیو او کړاوونو سره مخامخ کیږی. د سونګ د موادو، خوراکی توکو او د ژوند د نورو ضروری کالیو او خدمتونو بیه هره روځ لوړیږی. په ټولنه کې یو ډیر عادی او معمولی او ان حتمی کار هم له رشوت او فساد سره تړلی دی. اوسنی تش په نامه دولت چې ځان یې د خارجې نظامی ځواکونو او نړیوالې فاسدې کړی تر وزرو لاندې پټ کړی دی، پخپل منځ کې له ستونځو سره مخامخ دی او له خپلو خارجی مرستندویانو سره هم ګډه ژبه نشی موندلای. د ولس په منځ کې دا اوسنی دولت ځان ته مشروعیت نشی ګټلای. دادی نږدی یوکال کیږی چې حکومت خپله کابینه نشی بشپړولای. د فساد په ضد هره جوړه شوی اداره د فساد د کموالی سبب نه، بلکې د هغه د لازیاتوالی باعث ګرځې. د جمهوری ریاست د انتخاباتو د جنجال انګازه لا د خلکو له غوږو نه وه لری شوی، چې د ولسی جرګې د ټاکنود درغلیو ډولونه ووهل شول. د بیلا بیلو، ژبنیو، قومی، مذهبی او نورو ټولنیزو ډلو ترمنځ تضادونه په پرسیدلو عقدو اوړی. دولتی او حکومتی ارګانونه د دې پرځای چې د وطن په جوړولو او د ملت په خدمت بوخت وی، د خپلو جیبونو او بانکی حسابونو په ډکولو او پخپل منځ کې د ملت د شتمنیو پر ویش په سیالیو او ناندریو اخته دی. دا دولت د دې توان نه لری چې پخپله پوهه او ابتکار هغه پرمختیایی بودجه چې په واک کې یې لری، په ټولګټو پروژو کې په کار واچوی، خو بیا هم د نورو نړیوالو مرستو د جلبلولو مکرره ادعا هم کوی.

اوسنی ګمارل شوی واکمنان نه خپل ولس ته د خپلو سیاستونو او فعالیتونو په اړه قناعت ورکولی شی، نه له وسله والو مخالفینو سره د بریالی جګړې او یا ګټورې روغې جوړې وس لری، نه له ګاونډیانو سره د سم چلند جوګه دی او نه هم خپل نړیواله مرستندویه دولتونه له ځانه راضی ساتلای شی. د اوسنی دولت او حکومت سازشونه او مصلحتونه تر ډیرې اندازې د فرصت طلبو، غوړه ماله، او د مایع خاصیت لرونکو افرادو له پاره د کار، شتمنی او عاید ښه شرایط برابروی، خو ملی ګټو ته د زمنو، هیوادپاله، پاکو، کارپوه او تحصیل لرونکو افرادو لپاره یې ستر خنډونه رامنځته کړی دی.

واکمن تیم د هیواد د بیا جوړولو له پاره نه یوازې دا چې پخپله کوم پلان نه شی جوړولای، د خارجی متخصصینو په مرسته جوړ شوی پلانونه او پروژې هم نه شی عملی کولای، نو ځکه یې د خپل واک د ساتلو لپاره د وخت د وژلو (دفع الوقت) سیاست په مخ کې نیولی دی. له هر چا او له هر لوری سره یې اوسنۍناندری او جنجالونه د ملی ګټو د

ساتلو لپاره نه دی غوره کړی، بلکي د خپلو عیبونو د پټولو، د خپلي نامشروع واکمنی د اوږدولو او د عوامو د غولولو لپاره دی.

دا واکمنان د نظام د وسله والو دښمنانو سره د ملی عامو مصالحو پر بنسټ د روغي جوړي اراده او کوم ربښتیني پلان نه لري. دوی لا تراوسه خپل وسله وال دښمنان سم نه دی پیژندلی. د هغو د پخلاینې لپاره لازم پرسوناژ او د مقابل لوری له پاره د منلو او په ملی کچه د قبول وړ تدابیری تګلاره نه لری. د پرله پسي جرګو، شوراګانو او غونډو جوړولو پایله یوازي د واکمني ډلي د غړو تر منځ د نړیوالو مرستو د ویش او د ولس د غولولو له پاره پرله پسي بهانی دی.

د هیواد په اوسنی برلاسی سیاسی، اقتصادی او ټولنیز نظام کي د موجودو، خو له دولتی سیاستونو سره د مخالفو سیاسی کړیو او په تیره بیا د ولسواکو جوړښتونو او حلقو سره د زغم او دولسواکۍ د اصولو مخالف چلند کیږی. د ملی ګټو د ساتلو د سیاست پر ځای د غچ اخیستلو او تیرو حسابونو د تصفیه کولو روحیه مسلطه ده. د نادولتی ټولنیزو، صنفی او نورو ټولنو او حرکتونو مخه نیول کیږی. د نظر، عقیدې او عمل آزادۍ هره ورځ تر پښو لاندي کیږی. د مطبوعاتو او رسنیو په آزادۍ په بیلا بیلو ډولونو قیدونه وضع کیږی. د مدنی ټولني د ودې او پخوالی لپاره د شرایطو د برابرولو امکانات له منځه وړل کیږی.

افغانی ټولنه روځ تر بلي زیاته د مذهبی رادیکالیسم او کلتوری بې زغمی پر لور ښوئیږی. د اسلام د پاک دین د مختلفو مذهبو ترمنځ عُـقدې او ستونځي زیاتیږی. د نورو نړیوالو ادیانو له پیروانو سره د دښمنی او د هغوی د فزیکی امحاء روحیه روځ پر روځ پیاوړی کیږی. په هر قوم او ټولنیز چاپیریال کي له خپل کلتور پرته د نورو کلتورونو پر وړاندې کینه زیاتیږی. په ګاونډیو هیوادو او نړی کي د بیلابیلو او متفاوتو کلتورونو او د ژوند د طریقو سره کرکي او دښمنی ته لمن وهلی کیږي. دا ټول زموږ ملت او وطن په راتلونکو وختونو کي د نویو او لویو ستونځو او چلنجونو سره مخامخ کوی او د افغان ملت او د سیمي او نړی له پاره د نا امنیو، تاوتریخوالی، اخ و ډب او د زور زیاتی د کارولو شرایط رامنځته کوی.

د اوسنی دولت باندینی سیاستونه هم کومه ټاکلي تګلاره او د ملی ګټو د خوندی کولو له پاره منظم پلان او میتود نه لری. دا دولت له یوې خوا خپل ولس په ځان پسي نه شی راکاږلی. له بلې خوا ټل له ګاونډیو هیوادونو سره په نادریو او ستونځو کي دی، یعنی چي له هغوی سره د افغانستان د ستونځو په حلولو او د ښو مناسباتو په رامنځته کولوکي ناکام دی. د افغانستان اوسنی سیاسی حاکمیت له هغو نړیوالو ځواکونو سره، چي تر نظامی وزر لاندې یي له ولسه ځان پټ کړی، هم ټل په جنجال او ستړی کیدونکی کشاله کي دی. د بهرنیو پوځونو د شتون او یا وتلو په اړه د داسي معقول او زړور وړاندیز وس نه لری، چي خپل ولس ته قناعت ورکړی او د بهرنیو په وړاندې د دیپلوماتیکو او نورو مناسبو لارو د عملی کیدو اقدام وکړی.

داسي یو سیاسی حاکمیت چي په ولس کي مشروعیت ونلری، ملی ظرفیتونو او استعدادونو ته د غوړیدو زمینه برابره نشی کړای، د موجود نظام په داخل کي اپوزیسیون او مخالفین تر فشار لاندې ونیسی، د بیلا بیلو قومونو او نورو

ټولنيزو ډلو ترمنځ د دوستۍ پرځای دښمنۍ ته لمن ووهی، د مدنی ټولنې د ودې لپاره شرايط چمتو نشی کړای، د وګړو د مدنی او ولسواکه حقوقو او آزاديو لپاره مناسب چاپيريال رامنځته نکړی، پخپله جوړ کړی او منل شوی قوانين عملی نه کړی، د نظام د وسله والو مخالفينو سره د جوړجاړی وس او د سولې د عملی کولو پلان ونه شی لرلای، د هيواد د بيارغونې او جوړونې استعداد ورپکې نه وی، ولس ته خدمت ونه کړی، له ګاونډيو هيوادونو سره د ستونځو د حل ځواک ونلری او له نړيوالې ټولنې سره هم د خپل ولس د برم او منزلت برابر چلند ونه شی کولای، داسې يو دولت ددې پرځای چې د ملت ستونځې حل کړی، پخپله د ملت په وړاندې په لويه ستونځه بدليږی.

که د هيواد موجودې ستونځی او د ولس په مخ کې پراته چلنجونه په پام کې ونيول شی، د اوسنی کمزوری، له ولسه پردی، په فساد ککړ، بې ارادې او بې واکه حاکميت له پاره د يوه مستعد، هوډمن، ملي ګټو ته ژمن وطنپال مسلکی الترناتيف جوړول د افغان ملت په وړاندې تر ټولو مهمه او نه ځنډيدونکې دنده ده. صرف همداسی يو سياسی ځواک چې د ملت د ډيرکيو استازيتوب وکولای شی، په اداری او فنی چارو کې روزل شوی او مستعد ملی کادرونه او ظرفيتونه بې له تعصبه په کار واچولای شی، ملی ګټې وپيژنی او دفاع ته يې د ملا تړلو اراده او ځواک ولرلای شی، ټولو افغانانو ته، په هر ځای او لوری کې چې قرار لری، ځان مسئول احساس کړی او بالآخره له بهرنيو ځواکونو سره هم د افغانانو دخپلواکۍ او شرافت د ساتلو سره دسم چلند وس او جرئت ولرلای شی، کولای شی چې د ملت نورې ستونځې او د وطن په مخ کې پراته پرابلمونه حل کړی. دا اوسنی بيواکه، ژړغونی او بې تدبيره سياسی حاکميت چې تل پخپل منځ او بيا له ټولو نورو سره په بې ځايه ناندريو کې وی، نه پخپله پوهيږی چې څه وکړی او نه هم نوروته د کار موقع ورکولای شی، نشی کولای چې د وطن ستونځې حل کړی. اختيار يې له ولسه څخه اخيستی، د ملت د ابتکار مخه يې نيولې او هم د هيڅ کار جوګه نه دی. دوی تل ګيلې، نالبنت او بدې ورځې کوي، پخپلو کې ناندرۍ وهی او د ملت چانسونه سوځوی او وخت وربادې تيروی. که دوی واک نه لری او يا د ملت د خدمت وس په ځان کې نه وينی، نو د افغانستان د خلکو په وړاندې د مسئوليت د احساس په خاطر بايد استعفا ورکړی او ځای پخپله خوښه نورو ته پريږدی. افغانستان لا تر اوسه په قحط الرجال نه دی اخته. په ډيرش ميليونه افغانانو کې ډير داسې کسان شته چې په ښه او مناسبه توګه د خپل ملت استازيتوب او دفاع وکولای شی او زموږ ملت که خپلې مخې ته پريښودل شی، هم دا استعداد لری چې خپلو پرابلمونو ته د حل مناسبه لاره ومومی. د هيواد او ملت په وړاندې د پرتو ستونځو حل د يوه غښتلی سياسی حاکميت او دربشتينې سياسی ارادی پرته ناشونی دی او همدا تشه د افغانانو په وړاندې پروت تر ټولو مهم پرابلم دی.

www.esalat.org